كله چې په تاسو کې يو څوک له خپل (مسلمان) ورور سره مخ شي نو سلام دې پرې واچوي، که چېرته يې په منځ کې ونه، ديوال او يا ډبره راشي او بيا ورسره مخ شي، نو بيا دې پرې هم سلام واچوي

له ابوهريره رضي الله عنه څخه روايت دی چې رسول الله صلى الله عليه وسلم فرمايلي: "كله چې په تاسو كې يو څوک له خپل (مسلمان) ورور سره مخ شي نو سلام دې پرې واچوي، كه چېرته يې په منځ كې ونه، ديوال او يا ډبره راشي او بيا ورسره مخ شي، نو بيا دې پرې هم سلام واچوي".

[صحيح دی] [ابو داود روايت کړی دی]

رسول الله صلى الله عليه وسلم يو مسلمان بل مسلمان ته په سلام اچولو هڅوي؛ هر كله چې ورسره مخ كيږي، كه څه هم سره يو ځای روان وي او كله يې چې تر منځه كوم شی خنډ واقع شي لكه: ونه، ديوال او يا لويه ډبره او بيا ورسره مخ شي، نو بيا ځل دې پرې سلام واچوي.

https://sunnah.global/hadeeth/ps/show/3552